Office of the Deputy PM for Economic Affairs
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت

# د افغانستـان اقتصـادي پـرمختګ

## خبرپاڼه

درېیم کال - ۸مه ګڼه | پرله‌پسې ۷۰مه ګڼه

نېټه: ۱۴۰۵/۰۲/۳۱



په افغانســتان کې هره اوونۍ په بېلابېلو سکټورونو کې مهم اقتصــادي فعالیتونه او پرمختګونه رامنځته کېــږي. د افغانســتان اقتصادي پرمختــګ (خبرپاڼه) همدغو مهمو او وروســتیو اقتصادي فعالیتونو او پرمختګونو ته پوښښ ورکوي.

### په دې ګڼه کې لولئ:

۱- د واخان دهلیز له لارې د افغانستان او چین نښلون

۲- لوګر کې د اوسپنې ویلې کولو یوې فابریکې د جوړېدو د چارو پیل

۳- ایران ته د افغانستان د صادراتو ۸۵۰ سلنه زیاتوالی

## د واخان دهلېز له لارې د افغانستان او چين نښلون



د کليو د بيارغونې او پراختيا وزير مولوي عبدالطيف منصور په کابل کې د چين له سفير ژاو شينګ سره ليدلي دي. د کليو د بيارغونې او پراختيا وزير د چين له مرستو مننه کړې او ويلي يې دي چې د افغانستان خلک د واخان سړک له لارې له چين سره د نښلېدو له امله خوشاله دي. د کليو د بيارغونې او پراختيا وزارت له لوري د واخان دهلېز خام سړک د جوړولو چارې بشپړې شوې او افغانستان له چين سره په مستقيم ډول وصل شو. د افغانستان او چين ترمنځ د واخان دهلېز سړک بشپړېدل د افغانستان له پاره په اقتصادي، سياسي او ټولنيزه برخه کې د ستر بدلون محرک ګڼل کېدای شي. دا لومړنی ځل دی چې افغانستان د نړۍ له دويم ستر اقتصاد او د سيمې تر ټولو لوی سوداګريز او صنعتي ځواک سره په مستقيم ډول نښلي. افغانستان تر اوسه له چين سره سوداګريز تعامل په غېر مستقيمو لارو او د نورو هېوادونو له لارې کوي، چې لګښت يې لوړ او وخت هم زيات نيسي. د واخان سړک فعالېدو سره به افغانستان وکولی شي چې د سيمې له پاره د ترانزيټ په مهم دهلېز بدل شي. دا بدلون به د ترانزيټ په عوايدو، د سوداګرۍ په حجم او سيمه ييز اتصال باندې مثبت اغېز ولري. د واخان دهلېز د بدخشان او نورو ولايتونو له پاره د اقتصادي تحول زمينه برابروي. د سړک جوړېدو سره به د سوداګرۍ، سياحت، بازارونو پراختيا او کرنيزو توليداتو د لېږد له پاره اسانتياوې زياتې شي چې له امله به يې کاري فرصتونه ايجاد، د بې وزلی کچه به ورسره راټيټه او د هېوادوالو د عوايدو کچه به ورسره لوړه شي. د افغانستان اسلامي امارت غواړي چې له چين سره په مستقيم ډول سوداګري پيل کړي. د دې له پاره د واخان دهلېز نورې چارې او د سړک اساسي رغولو ته به توجه وکړي، چې له امله به يې سوداګرۍ کې ډېرې اسانتياوې رامنځته شي او دغه دهلېز به د هېواد اقتصادي وده کې د پام وړ رول ولوبوي.

## لوګر کې د اوسپنې ويلې کولو يوې فابريکې د جوړېدو د چارو پيل

د لوګر د محمداغې ولسوالۍ په صنعتي ښارګوټي کې د څه باندې ۲۰۰ میلیون ډالرو په ارزښت د اوسپنې ويلې کولو يوې فابريکې د جوړېدو چارې پيل شوې. د پرانيستې مراسمو کې د صنعت او سوداګرۍ وزارت او رحيم ګرديزي شرکت مسوولينو ګډون درلود. د دې فابريکې د جوړولو د چارو پيل د افغانستان د صنعتي ودې له پاره مهم ګام بلل کېږي. کلونه کېږي چې افغانستان د اوسپنې او فولادو په وارداتو متکي دی، چې دا کار هر کال بهر ته د اسعارو د وتلو لامل شوی دی. د دې فابريکې په جوړېدو سره به په کور دننه د اوسپنې توليداتو کې زياتوالی راشي، د بهرنيو اسعارو د وتلو مخه به ونيول شي او ترځنګ به يې د توليدي اقتصاد بنسټ پياوړی شي. سربېره پر دې، د دې فابريکې له فعاليت سره به د کارموندنې فرصتونه ايجاد شي. زرګونه هېوادوال به په مستقيم او غېر مستقيم ډول په کار بوخت شي. عوايد به يې زيات

او د ژوند سطحه به یې لوړه شي. د صنعت او ســوداګرۍ وزارت د مرستیال په وینا، د محمداغي صنعتي ښارګوټي له پاره نوره زره جريبــه ځمکــه ځانګــړې شــوې چې نــږدې راتلونکــي کــې بــه پانګوالــو تــه ووېشــل شــي. یاد ښــارګوټي ته د نورې ځمکــې وېش ښــيي چــې د افغانســتان اســلامي امارت د صنعتي ښــارګوټو د لا ډېــر فعالېدو هڅې کوي او په هېواد کې د خصوصي سکتور پانګونه هڅوي.



## ایران ته د افغانستان د صادراتو ۸۵۰ سلنه زیاتوالی

پــه وروســتیو میاشــتو کــې ایــران تــه د افغانســتان صادرات څه باندې ۸۵۰ ســلنه لوړ شــوي دي. د صادراتو دا لوړوالی ښــیي چې افغانســتان کولی شــي په سیمه کې د نړیوالو بدلونونو له امله له رامنځته شــویو فرصتونو اقتصادي ګټه واخلي. په هرات کې د سوداګرۍ او پانګونې خونې مسوولینو په وینا، افغانســتان تر ډېــره معدني توکي، وچه مېوه، نوشابې، پنبه او طبي بوټي ایران ته صادروي. ایران د افغانســتان له پاره ستر مصرفي بــازار دی. د افغانســتان توکو ته د ایران د بازارونو نږدېوالــی او ټیټ اقتصادي لګښــتونو د ســوداګرۍ له پاره مناســب شــرایط برابــر کــړي دي. هغه مهــال چې د نړیوالو کړکېچونو له املــه د ایران د وارداتو لارې محدودې شوې، نو افغانستان د بدیل عرضــه کوونکــي هېواد پــه توګــه د ایران بازارونو ته داخل شو، چې اوس یې پایله د افغانستان د صادراتو لوړوالی دی. ایران ته د افغانستان صادرات د سوداګرۍ د توازن برابرولــو له پــاره ډېر مهم دي، نــو ځکه خو افغانستان ته د ایران د وارداتو کچه لوړه ده. د ســوداګرۍ توازن د افغانــي او اقتصادي ثبات لامل ګرځي. که چېرې افغان سوداګر په صادراتي توکو کې کیفیت او بســته بندي په نظرکې ونیسي، نو کولی شي چې د ایران او امریکا ترمنځ د سولې هوکړې او وضعیت له عادي کېدو وروسته هم د ایران په بازارونو کې خپل ځای ثابت او د افغان صادراتو کچه لوړه وساتي.

